# محافظت مفهوم یا کړنلاره
# د کمپس ازول (CampusAsyl)

کمپوس آزول غواړي د ټولو لپاره یو خوندي او محافظت شوی ځای رامنځته کړي. له همدې امله، کمپوس آزول د محافظتي تګلارې یوه طرحه لري. دا تګلاره تشریح کوي چې تاسو څه کولی شئ که په ټولنه کې په کومه ناخوښه پېښه کې ښکېل شئ یا که تاسو ته کومه بده پېښه شوې وي. په دې ډول کمپوس آزول غواړي خپل ارزښتونه په عمل کې پلي کړي.

## 1 دا تاسو کولی شئ ترسره کړئ که شکایت لرئ:

ایا تاسو د یوې ډلې ګډونوال یاست یا د ټولنې غړی یاست؟ یا تاسو په کمپوس آزول کې کار کوئ؟ ایا تاسو کومه ناخوښه تجربه کړې یا څه تاسو ته خفه کوونکي دي؟ نو تاسو کولی شئ په دې اړه شکایت وکړئ.
تاسو دا په دې ډول کولی شئ:

- تاسو کولی شئ خپل شکایت د بریښنالیک له لارې زموږ د پلټنې ډلې ته واستوئ (ombudsteam@campus-asyl.de).
منځګړی بې طرفه وي. دا پدې مانا ده چې هغه ستاسو شکایت په بې طرفه او عادلانه ډول ارزوي. د پلټنی ډله غړي:

| | |
|---|---|
| الیزابیت بوورمن | elisabeth.bauermann@campus-asyl.de |
| مئین سوفان | maen.soufan@campus-asyl.de |
| ګابي ایزرت | gabi.eisert@campus-asyl.de |

- د پوسټ له لارې هم خپل شکایت لاندی ادرس ته واستوئ:

پته: Bajuwarenstr. 1a, 93053 Regensburg
او یا په Zeißstr. 9, 93053 Regensburg شکایت واچوئ پوست باکس کې
د دفتر سره اړیکی شمیره: 0941 56803419

شکایت کولی شي ستاسو په اصلي ژبه کې ولیکل شي. موږ به هغه متن وژباړو او که اړین وي، یو ژباړن یا ژباړنه مومندلو.

## 2 دا ډول شکایت پروسس کیږي:

هر شکایت د پلټنی ډله لخوا پروسس کیږي. کله چې دوی ستاسو شکایت ترلاسه کړي، نو هغه به تاسو ته ژر خبر درکړي او ووایي چې څرنګه به یې پرمخ وړي.

د پلټنی ډله پرېکړه کوي چې آیا باید نور کسان، لکه د اداري غړي، د مشورتي ټیم یا دفتر، هم په دې پروسه کې شاملوو. هڅه کېږي چې یوازې تر لږه شمېر خلکو ته معلومات ورکړل شي او ستاسو معلومات به پټ او بې نومه وساتل شي.
بیا د پلټنی ډله کولی شي داسې پرمخ لاړ شي:

- اول کوشش کیږی چی د شکایت کوونکی او د پلټنې د ډلی ترمنځه خبری وشی او ستونزه حل کړی.
- د ضرورت په صورت کی به یوی مسئولی اداری یا د ځوانانو دفتر سره اړیکه ونیول شی.
- که چیری تاسو پولیسو ته شکایت کوی، د پلټنی ډله ستاسو سره شکایت کولو کی مرسته کوی.